بسم الله الرحمن الرحیم

# په اسلام او پانگوالۍ کې د مېرمنو سیاسي حقونه

## (ژباړه)

غرب د پانگوالۍ ایډیولوژۍ پر مټ پر اسلامي خاورو یاړ پلوري، په دغه تعبیر چې غربي مېرمنو ته په سیاسي برخه کې ونډه ورکړل شوې او له سیاسي حقونو برخمنې دي؛ د دوی په وینا، هغه څه چې اسلام مسلمانې مېرمنې ترې محرومې کړې دي. د غربي ایډیولوژۍ په خبره چې دوی پخپلو هېوادونو کې مېرمنو ته دا اجازه ورکړې چې د سیاسي مقام تر لاسه کولو لپاره نوماندې شي او د خلکو د استازې په توگه پارلمان ته لاره پیدا کړي. په داسې حال کې چې که د دغه پارلمان واقعیت ته وکتل شي، دا به درک کړې چې هلته د مېرمنو سیاسي مشارکت تش په نوم دی، مېرمنې په پارلمان کې هېڅ رول نه لري. په پارلمان کې د هغوی شتون د ټاکنیزو برنامو لپاره له هغوی څخه د ناسمې گټې اخیستنې او د ډېرو رایو تر لاسه کولو لپاره دی. هغوی مېرمنو ته په پارلمان کې د څو څوکیو په ورکړې سره دوکه ورکوي.

په دغو نظامونو کې پارلمانونه له اړین رول څخه برخمن نه دي، نو په داسې پارلمانونو کې که مېرمنې رول هم ولري، په هېڅ حساب دی. په پارلمانونو کې د مېرمنو شتون د خلکو په سترگو کې له خاورو اچولو پرته بل څه نه دي. دوی په دې سره غواړي چې خلک داسې تمه ولري چې گنې استازې یې په پارلمان کې شته چې د دولت له واقعیت سره مخالفت کولی شي او هغه بدلولی شي. په حقیقت کې د پارلمان رول دا نه دی چې په معروف سره امر وکړي او له منع شوو څخه منع وکړي، بلکې نه نیول شوو تصمیمونو ته رایه ورکول؛ یا د شرعي احکامو د ځینو احکامو پلي کېدو او نه پلي کېدو ته رایه ورکول دي. دا هغه واقعیت دی چې موږ یې په سترگو وینو، ځکه د دغو پارلمانونو شتون یوازې تشه بڼه لري او هغه رول چې پارلمانونو ته ورکړل شوی، دلته نه پلي کېږي.

خو د ټاکنو په اړه چې غرب دا ادعا کوي چې مېرمنو ته د ټاکل کېدو اجازه ورکوي، باید ووایو چې په غرب کې مېرمنې د رایې د حق له ورکولو محرمې وې، تر دې چې د یوې اوږدې مبارزې په پایله کې یې د رایې اجازه تر لاسه کړه. د بېلگې په توگه، امریکا په ۱۹۲۲ م کال کې ښځو ته د رایې حق ورکړ. د درواغجنو ازادیو مور فرانسې په ۱۹۴۴ م کال کې مېرمنو ته دا حق ورکړ.

دا د پانگوالۍ تر چتر لاندې د غربي مېرمنو سیاسي رول و، خو د هغه واقعیت په تړاو چې ټولو ته ښکاره دی، داسې کسان پیدا کوو چې د عقیدې د ازادۍ او ډیموکراسۍ ادعا کوي، خو پر دې ټولو سربېره که کوم څوک د هغوی له ایډیولوژۍ سره مخالفت ولري او یا مخالف نظر وړاندې کړي، زندان ته اچول کېږي. د هغوی زندانونه

له عقیدتي بنديانو ډک دي. تر ټولو نبږدې بېلګه يې د ترکيې د سېکولر دولت له لوري د حزب التحرير د پنځو ښځينه غړو بندي کېدل دي، چې يوه يې له نوي زيږېدلي ماشوم سره يوځای په بند کې ده. د هغوی د بندي کېدو يوازنی دليل دا و چې د عموريې په قلعه حومه کې يې د خلافت د سقوط ۱۰۰مې کليزې په مناسب يوه ويډيو ډکه کړې وه، هغه ځای چې د معتصم له خوا د يوې مسلمانې مېرمنې د مرستې غوښتنې په ځواب کې، چې تېرى ورباندې شوی و، فتح شو.

حتا هغه ويبسايټونه او نورې خبري پاڼې څاري چې د هغوی له فاسدې ايډيولوژۍ سره په ټکر کې وي او د سيي ايډيولوژۍ او مفکورې د لېږد مخه نيسي. هغوی څو ځلې د ښځې او شريعت فېسبوک پاڼه وتړله، په داسې حال کې چې په ياده پاڼه کې يوازې د مېرمنو واقعيت او پر هغوی پورې اړوند مسايل بيانېدل او هغه ته يې ارزښت ورکاوه. نو په داسې صورت کې چې يوه مېرمن خپله سياسي مفکوره نه شي وړاندې کولی، د هغوی سياسي حقونه چېرته دي؟!

داسې ډېر شواهد شته چې په اسلام کې مېرمنې په سياسي چارو کې برخمنې وې او د هغوی د سياسي فعاليتونو او کار پر وړاندې هېڅ خنډ نه و؛ هغه امتياز چې مسلمانې مېرمنې ۱۴۰۰ کاله وړاندې ترې برخمنې وې. په دې مانا چې اسلام تر غرب ۱۴ پېړۍ وړاندې مېرمنو ته سياسي حقونه ورکړي وو. په دغه ايت شريف کې قرانکريم مېرمنې او نارينه له کومې استثناء پرته په عام ډول مخاطب کړي دي، د امت کلمه د ټولو لپاره عامه ده، هغه کاروي او يوازې نارينه نه مخاطبوي؛ الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾** [النحل:۹۷]

***ژباړه:*** *هر څوک چې غوره کار ترسره کړي، هغه که نارينه وي او يا ښځينه، په داسې حال کې چې مومن وي، هغه ته غوره ژوند او د هغو نېکو عملونو ثواب ورکوم چې ترسره کول يې.*

**﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾** [آل عمران:١٠٤]

***ژباړه:*** *بايد ستاسو يوه ډله نېکۍ ته دعوت، په معروف امر او له منکر څخه منع وکړي او هغوی ريښتينې او رستګاران دي.*

**په همغه ډول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له کومې استثناء پرته ښځو او نارینه وو ته په عام ډول د اسلام د لېږد امر کوي او فرمايي:**

**«بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً»**

***ژباړه:*** *له ما څخه يې نورو ته ورسوئ، که يو ایت هم وي.*

ښځو د اسلامي دعوت په لومړیو ورځو کې په مکه کې مهم رول ترسره کاوه. په همغه بڼه چې په مدینه کې د دولت تر جوړېدو وروسته یې هم رول درلود، د دعوت رسولو په چارو کې برخمنې وې او د خپلو خاوندانو لپاره ښې تکیه وې. حتا د اسلامي دعوت په رسولو کې له ډېرو شکنجو او ځورېدو سره مخ شوې، په داسې کچه چې په یوه الگو بدلې شوې چې تر نن پورې پر هغوی ویاړ کېږي. لکه ام المومنین خدیجه بنت خویلد رضي الله عنهما چې د اسلامي دعوت له لومړیو شېبو څخه یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مرسته وکړه او د هغه تکیه شوه. همدارنگه په اسلام کې لومړنۍ شهیده سمیه بنت خیاط. اسماء بنت ابوبکر، ام عماره او ام منیع چې دواړو د عقبې په دویم بیعت کې له نارینه وو سره یوځای له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیت وکړ؛ هغه بیعت چې د جگړې لپاره و. د عمر بن الخطاب د خلافت په وخت کې یوې مېرمنې په ښکاره بڼه د ټولو په شتون کې عمر رضي الله عنه محاسبه کړ، کله چې هغه غوښتل مهریه تعین کړي. همدارنگه د عمر رضی الله په وخت کې د الشفاء په نوم یوه مېرمن ښارواله وټاکل شوه، یعنې هغې د ښار کنټرولولو مسولیت پر غاړه واخیست. رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبیې د سولې په وخت کې له ام سلمه سره مشوره وکړه او د هغې د نظر اړوند یې اقدام وکړ. همدارنگه صحابیه فاطمه بنت قیس رضي الله عنهما چې له عمر بن الخطاب رضی الله عنه وروسته د خلیفه په ټاکنه کې له هغې سره مشوره وشوه. دا ټول هغه موارد دي چې د اسلام په پیل کې وو. نو د اسلامي دولت او د اسلامي نظام د قدرت په وخت کې به د ښځو سیاسي موقعیت په کومه کچه کې وو؟ په دې اړه به خبرې بیا هم دوام وکړي.

په هر وخت کې د مسلمانو مېرمنو تر ټولو ستر سیاسي رول د داسې زامنو روزل وو چې هغوی لوی فاتحان او رهبران وو چې مېړانه به یې تل په تاریخ کې لیکلې پاتې وي. هغه کسان چې اسلامي دعوت یې نړۍ ته ولېږداوه او الله سبحانه وتعالی یې راضي کړ. لکه د محمد فاتح مور چې تر قسطنطنیې پورې له خپل زوی سره وه او هغه ته یې ویل: «ته د دغه ښار فاتح یې او همداسې وهم شول چې هغه ښار یې فتح کړ.

دا هغه رول دی چې غرب ترې ډارېږي او شپه او ورځ د مسلمانو مېرمنو د انحراف او بېلارېتوب هڅه کوي، څو په دې سره د خپلې بقا ضمانت وکړي. اې الله سبحانه وتعالی! ژر تر ژره زموږ سترگې په اسلامي دولت سره روښانه

کړي، د نبوت پر تګلاره دویم راشده خلافت. اې الله سبحانه وتعالی! موږ ته د اسلام د احکامو تر سیوري لاندې باعزته ژوند راپه برخه کړې.

اللهم آمین!

**لیکوال: رولا صلاح؛ د فلسطین له مبارکې خاورې څخه**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**